International Finance Corporation
World Bank Group

THE WORLD BANK

# نړیوال بانک ګروپ په سهیلی آسیا کی د ۲۰۰۷ سوداګرۍ راپور خپور کړ

## *هند او پاکستان په سیمه کی تر ټولو مخکی هیوادونه دی، حیدرآباد په هند کی او کراچی په پاکستان کی د سوداګرۍ لپاره تر ټولو ښی کړنلاری لری*

**واشنګټن ډی سی، د ۲۰۰۷ کال د فبروری د میاشتی ۱۳ مه نیټه –** د هغه نوی سیمه ایز رپورټ له مخی چی د نړیوال بانك او د نوموړی بانك د خصوصی سکټور د څانګی (IFC) لخوا نن خپور شو، په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ کال کی په هند او پاکستان کی سوداګرۍ آسان ښودل شوی دی. په نوموړی رپورټ کی د نړیوال بانك د سهیلی آسیا د سیمی ۸ هیوادونه شامل دی او د هند ۱۲ سترو ښارونه، د پاکستان ٦ ښارونه او د بنګله دیش ٤ ښارونه تر څیړنی لاندی نیول شوی دی. په هند کی حیدر آباد د سوداګرۍ لپاره تر ټولو ښی کړنلاری لری. د ممبی ښارد کلکته څخه مخکی او په یولسمی درجی کی قرار لری. په ځانګړی توګه، په ستر ښاری مرکزونو لکه ممبی او کلکته کی زیات سوداګرۍ ترسره کیږی، نو له همدی آمله قانونی او اداری خنډونه ستری ستونزی مینځ ته راوړی. په پاکستان کی د کراچی ښار او په بنګله دیش کی د ډهاکی ښار تر ټولو مخکی دی.

په هند کی پنځه اصلاحاتو او په پاکستان کی دوه اصلاحاتو د سوداګرۍ په اړه یی په وخت، لګښت او ستونزو کی کموالی راوستی تر څو سوداګریر وکولای شی د قانونی او اداری شرایطو سره سم تر سره شی. په ۲۰۰۵ او ۲۰۰۶ کال کی، د هند او پاکستان پرته بل یوه سهیلی آسیایی اقتصاد هم خپلو تجارتی کړنلارو ته اصلاحات ور نه بخښل چی په پایله کی یی سیمه د اصلاحاتو په پام کی نیولو سره تر ټولو وروسته پاتی شوه.

دغه رپورت په سیمه کی د سوداګرۍ په اړه کړنلاری او قوانین په نړی کی د ۱۷۵ نورو هیوادونو په پرتله څیړی، په سیمه کی تر ټولو لوړ مقام لرونکی هیوادونه دادی: مالدیفز (۵۳) او پاکستان (۷۴) او وروسته بنګله دیش (۸۸)، سریلانکا (۸۹)، نیپال (۱۰۰) او هند (۱۳۴)، پداسی حال کی چی بوتان (۱۳۸) او افغانستان (۱۶۲) په سیمه کې تر ټولو ټیټ مقام لرې.

*"په سهیلی آسیا کی سوداګرۍ کول ۲۰۰۷* " د سهیلی آسیا د سیمه ایز رپورټونو د لړی دریم رپورټ دی چی د سوداګرۍ کولو د نړیوال کلنی رپورټ د کاری میتود پر بنسټ ولاړ دی. د سوداګرۍ *کولو* رپورټ پورتنی درجه بندی د دولت د سوداګرۍ د پیل کیدو، پکار اچونی، سوداګری، مالیی ورکونی او بندونی د شرایطو د پوره کولو په اړه د وخت او لګښتونو شاخصونه رانیسی. نوموړی درجه بندی بدلیدونکی لاملونه (متغییرات) لکه د مارکیټ اندازه، د ستر اقتصاد پالیسی، د زیربناوو څرنګوالی، د کرنسی په قیمت کی بدلون، د پانګه اچوونکو اند او سوچ یا د جرمونو کچه په پام کی نه نیسی.

رپورټ څرګندوی چی په سهیلی آسیا کی کاروبار کوونکی د سوداګریر کولو په وړاندی د ستر قانونی خنډونو سره مخامخ دی. د بیلګی په توګه، په سیمه کی یوه اضافه بست شوی کارکوونکی ته په اوسط ډول باید د ۱۸ میاشتو تنخواه ورکړ شی. په بنګله دیش کی د جایداد د ثبتولو لپاره د یوه کال څخه زیات (٤۲٤ ورځو) ته اړتیا ده. ټکسونه ډیر لوړ دی: په هند کی یوه معیاری کمپنی د ګټو ۸۱ فیصد ټکس ورکوی، پداسی حال کی چی په پاکستان کی د ټکس بشپړ قانون پلی کول په یو کال کی ٥٦۰ ساعت وخت نیسی.

په بنګله دیش، هند او پاکستان کی ښی کړنلاری وجود لری. د رپورټ د ټیم د څرګندونی له مخی، که چیرته په دغه هیوادونو کی هر ښار په اړوند هیواد کی دننه د نورو ښارونو ښی کړنلاری خپلی کړی، په پایله کی به یی نوموړی هیواد په آسانی سره سوداګرۍ تر سره او درجه یا کچه به یی هم ډیره لوړه شی. ددی لپاره چی هند وکولای شی په سوداګرۍ کولو کی ۵۵ درجی پاس لوړشی، نوموړی هیواد ته پکار ده چی د بیلګی په توګه د سوداګرۍ د پیل کیدو لپاره د جیپور کړنلاری، د تړونونو او ټکسونو په اړه د بهوبانیشوار قوانین او کړنلاری او د تجارت په

2121 Pennsylvania Avenue, N.W. Washington D.C. 20433 Telephone 202-473-3800 Fax 202-974-4394

په ۲۰۰۵ او ۲۰۰٦ کال کی، په سهیلی آسیا کی د اصلاحاتو بهیر په بلی هری سیمی کی د اصلاحاتو د بهیر په پرتله ډیر ورو وو، پداسی حال کی چی یوازی هند او پاکستان د سوداګري د چاپیریال په ښه کولو پیل وکړ. په سیهلی آسیا کی د مالی او خصوصی سکټور د پراختیا لپاره د نړیوال بانك منیجر ، سایمن بیل وائی: "هیوادونه د پانګه اچونی، خصوصي شرکتونو جوړولر او هغو دندو لپاره چی د کاروبار او پانګه اچونی په پایله کی مینځ ته راځی، په خپلو کی رقابت کوی. یو لړ اصلاحات په سیمه کی جریان لری، خو د اصلاحاتو بهیر باید چټکتیا ومومی تر څو سهیلی آسیا وکولای شی د سوداګري کچه د نړی د نورو سیمو سره برابره کړی".

د یوی سیمی په څیر، سهیلی آسیا د کاروبار په پیل کولو کی او همدا راز د پانګه اچونی په ساتنه کی په نسبی ډول بریالی ګڼل کیږی، خو د کارکوونکی په کار ګمارلو کی، تړونونو په پلی کولو کی او د پولی هاخوا تجارتونو کی دغه سیمه وروسته پاتی ده. د بیلګی په ډول په سهیلی آسیا کی د محکمی له لاری د تجارتی شخړو هوارول د بلی هر سیمی په پرتله زیات وخت نیسی. دغه کار په اوسط ډول څه نا څه دری کاله (۹٦۸ ورځی) دوام کوی.

ریپورټ څرګندوی چی د سوداګري ستونزمنی او لوړ لګښتیز ی کړنلاری او مقررات کارکوونکی پټ اقتصاد ته اړ باسي. په هند کی، چیرته چی له یو ملیارد څخه زیات وګړی اوسیږی او ٤۵۸ میلیون کاری ځواك لری، ۸ میلیون کارکوونکی په خصوصی سکټور کی رسمی دندی لری. په سریلانکا کی د ۷ میلیون کاری ځواك له جملی څخه ٤ میلیون کار کوونکی په خصوصی رسمی سکټور کی دندی ترسره کوی. په بنګله دیش کی ۷ میلیون کار کوونکی په خصوصی سکټور کی رسمی دندی لری. د قطبی آروپا په هیوادونو کی، چیرته چی سوداګري په آسانی سره ترسره کیږی او خلك د ټولنیزی ساتنی څخه ګټه اخلی، د ټولو اقتصادی فعالیتونو ۸ فیصده څخه کم په پټ اقتصاد کی تر سره کیږی.

ددغه ریپورټ یو لیکوونکی، کرالی میکلیش وایی: " د سوداګري په نامه ریپورټ په ترڅ کی د ورکړ شوی معلوماتو جوړښت او جزئیات حکومتونو ته موقع ورکوی تر څو قانونی ستونزی په ګوته او په نړیواله کچه یی مقایسه کړی او په پایله کی یی تر ټولو ښی کړنلاری خپلی کړی. په نتیجه کی، سوداګري راپور د حکومتونو لخوا منل شوی او مخکی څخه یی په څه نا څه ٤۰ هیوادونو کی ۵۰ اصلاحات هڅولی دی."

د سوداګری راپور پروژه د ۵۰۰۰ څخه زیات محلی کارپوهانو، سوادګریز صلاحکارانو، قانون پوهانو، محاسبیونو، دولتی چاروکو او د نړی په کچه د ستر علمی شخصیتونو د هڅو، ملاتړ او بیاکتنی پر بنسټ ولاړه ده. ددغو کسانو نومونه په لاندینی انټرنیټی پاڼه کی لیدلای شئ. http://www.doingbusiness.org.

د مرکو او زیاتو معلومات لپاره لاندینی کسانو سره اړیکی ټینګی کړئ:
په واشنګټن کی: **نادین گانام**
+1 (202) 458-0482 Cell: 1 (202) 361-7798, Email: nsghannam@ifc.org
**په افغانستان کی:** عبدلروف ضیا: موبائیل (۰۷۰۲۸۰۸۰۰) بریښنالیک: **azia@worldbank.org**

د *سوادګری* د ریپورټ د نورو اړوندو ریپورټونو لپاره دغه ویب پاڼه وګورئ: www.doingbusiness.org
د *په سهیلی آسیا کی سوادګری* ۲۰۰۷ په نامه د ریپورټ نسخی په دغه ویب پاڼه کی وګورئ:
http://www.doingbusiness.org/southasia